SHARIAT
شریعت
اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
پنځم کال ۸۹ گڼه پرله پسې(۳۷۶) شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال درمضان المبارک (۶)
د۱۳۷۹هـ ش کال د لیندی دمیاشتې(۱۲)د۲۰۰۰میلادي کال د دسمبر (۲)

در ولایت تخار :

مخالفین ساحات وسیعي را ماین گذاري کرده اند

تخار - باختر :
مخالفین ا.ا.ا هنگام شکست شان در شمال شرق کشور علاوه بر فعالیت هاي تخریبي محلات مسکوني و ساحات وسیع زراعتي را نیز ماین گذاري نموده اند.
گر چه قرارگاه هاي نظامي تاسیسات امارتي و برخي از محلات مسکوني شهر تالقان در نخستین روز هاي فتح شهر تالقان از وجود ماین ها توسط تیم هاي ماین پاکي مجاهدین اردوي اسلامي پاکسازي گردیده است اما مناطق مسکوني و زمین هاي زراعتي قبر قاضي ، بنگي، بهارك، اورته بوز، و سایر مناطق دیگر ولایت تخار از وجود ماین ها پاکسازي نگردیده و گفته میشود که بیش از دو صد هزار ماین در این ساحات توسط مخالفین جدیداً جابجا گردیده است .
همچنان مخالفین هنگام شکست و فرار از استقامت شاهراه پل بنگي الي شهر تالقان در مناطق قلبرس و چشمه شیر چهار پل شش متره اساسي و از استقامت قبر قاضي الي مناطق ولسوالي بهارك دو پل اساسي را انفجار داده اند .

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

د اسلامي امارت له مجاهدینو سره :

د مخالفینو (۹) تنه قوماندانان

د سمنگانو ولایت په دره صوف کې :

یو ځای شول

ددغو قوماندانانو په یو ځای کیدو سره په نوموړي ولایت کي امنیت لا ښه تامین شوی دی

د اسلامي امارت د هدفونو او سولې د ټینگښت لپاره به هلې ځلې کوو

یو ځای شوی قوماندانان

سمنگان - باختر :
د سمنگانو ولایت د دره صوف ولسوالی په مربوطاتو کی د اسلامی امارت له مجاهدینو سره د مخالفینو د نهو تنو قوماندانانو په پیوستون سره په دغو سیمو کی ډاډمن امنیت تامین شوی دی
په هغی غونډه کی چی له همدی امله پرون له غرمی مخکی د سمنگانو ولایت د نولسمی فرقی د قطعاتو او جزوتامونو د چارواکو په گډون د دره صوف په ولسوالی کی جوړه شوی وه د سمنگانو ولایت مرستیال محترم مولوی احسان الله او د نولسمی فرقی قوماندان محترم ملا نعمت الله سالک په وار سره د اسلامی امارت د لوړو او سوله بیزو هدفونو په باره کی خبری وکړی او د ښه امنیت د تامینولو او خلکو ته د خدمت په لاره کی یی د قوماندانانو او د نظامی چارواکو رسالتونه او وجیبی جوتی کړی او له اسلامی امارت سره د مخالفینو د قوماندانانو پیوستون ، مخ

د مبارکي روژې په درناوی :

د تخار ولایت شپیته تنه بندیان ازاد کړی شول

تخار - باختر :
د عالیقدر امیر المومنین له لارښوونی سره سم د تخار ولایت شپیته تنه جنگی اسیران تیره ورځ له بند څخه آزاد شول.
دغه اسیران چی د تالقانو ښار او د هغه د شاوخوا سیمو د فتحی په وخت کی نیول شوی وو د روژی د مبارکی میاشتی په درناوی د کنډز ولایت د استخباراتو له محبس نه آزاد شول.
٤ مخ

سفیر امارت اسلامي افغانستان در اسلام آباد :

تعزیرات شوراي امنیت بر مشکلات مردم افغانستان افزوده است

محترم ملا عبدالسلام ضعیف سفیر ا.ا.ا در اسلام آباد دیروز در یك کنفرانس مطبوعاتي پیامد ها و اثرات ناگوار تعزیرات شوراي امنیت سازمان ملل متحد را بر مردم افغانستان توضیح نموده موقف و سیاست امارت اسلامي افغانستان را در رابطه به مسایل بین المللي و منطقوي تشریح نمود.
در این کنفرانس مطبوعاتي که به اشتراك عده زیادي از ژورنالستان کشور هاي خارجي دایر گردیده ص ٤

د کابل ښاروالی له خوا :

یو شمیر متخلفین مجازات شول

کابل - باختر :
د کابل ښاروالی د بیو د کنترول د ریاست موظفینو یو شمیر هغو دکاندارانو ته سزا ورکړه چی د اړوندو لایحی په خلاف یی عمل کاوه .
د موادو د بیو د ټینگښت
٤مخ

د سر پل په ولایت کی :

د سری میاشتی مرستی وویشل شوی

سر پل - باختر :
د سرپل ولایت د افغانی سری میاشتی د ټولنی ریاست په دغه ولایت کی په سلو بی وزلو کورنیو باندی خوراکی مواد وویشل .
د مرستو په دغو موادو ٤ مخ

در ولایت غزني :

رادیو صداي شریعت به نشرات خود در موج کوتاه آغاز نمود

غزني - باختر :
رادیو صداي شریعت ولایت غزني به نشرات خود روي موج کوتاه آغاز نمود.
رادیو صداي شریعت ولایت غزني که از ص٤

در چغچران سروي ماستر پلان آغاز گردید

چغچران - باختر :
سروي ماستر پلان چهارم شهر چغچران مرکز ولایت غور آغاز گردید.
در مراسمي که بهمین مناسبت به اشتراك بعضي از مسولین امارتي و جمع از شهریان چغچران دایر گردیده بود محترم مولوي عبدالرحمن ص ٤

په پکتیا کی :

په کروندگرو باندی اصلاح شوی تخمونه وویشل شول

پکتیا - باختر :
د پکتیا ولایت د کرنی اداری د منی د کرکیلی د کمپاین په بهیر کی ددغه ولایت په مرکز او اړوندو ولسوالیو کی په بزگرانو باندی ویشلی د کرنی د ولږ اصلاح شوی غنم دی.
د پکتیا ولایت کرنی اداری رئیس محترم عمرا خان ٤ مخ

په کندز کی :

د مهاجرینو وضعیت د اندیښنی وړ دی

کندز - باختر : نړیوالو خیریه موسسو او سازمانونو د کندز په ولایت کی له مهاجرینو سره د مرستی په خاطر تر اوسه پوری لکه څنگه چی لازمه ده بشر دوستانه مرسته نه ده کړی .
د کندز په ښار کی کابو دری زره تنه مهاجری کورنی د سپین زر شرکت په یو د وه سوه بستریز روغتون او ودانی تجربوی مدرسی او یو شمیر بی په ښار کی ژوند کوی.
دغه مهاجرین څه د پاسه ٤ مخ

موضوع پر تشنج :

انتخابات امریکا به ستره محکمه انکشور کشانیده شد

وکلا ، جورج دبلیوبوش والگور کاندیدان جمهوریخواهان ودموکرات ها براي احراز مقام ریاست جمهوري امریکا امروز در ستره محکمه ایالات متحده امریکا یعني عالي ترین مرجع قضایي انکشوربه مقابله یکدیگرمیروند.
ستره محکمه درباره اینکه جورج دبلیوبوش میتواند اخلافات موجود درانتخابات ریاست جمهوري ص ٤

مبارزین مسلمان فلسطیني طرح رژیم صهیونستي را رد نمود

منابع خبري جهان :
رژیم صهیونستي طرح تازه یي را براي صلح با فلسطیني ها پیشنهاد کرده است.
بر اساس این طرح تشکیل یك کشور مستقل فلسطیني به رسمیت شناخته میشود اما مذاکره در باره سرنوشت بیت المقدس به تاخیر مي افتد . مقامات فلسطیني این طرح را که از طرف ایهود بارك
ص٤

عراق با تفتیش تسلیحاتي ملل متحد مخالفت نمود

عراق بار دیگر با آغاز دو باره ماموریت هاي مفتشین تسلیحاتي سازمان ملل متحد در عراق شدیداً مخالفت ص٤

یک شهر و ۲۰ مرکز خدمات کمپیوتري

کمپیوتر یک پدیده جهانشمول بوده و ضرورت آن امرجهاني تلقي میگردد

محترم احمد ضیأ «شریفي» یکتن از استادان مجرب و سابقه دار مرکز خدمات کمپیوتري نوید

به کمك کمپیوتر قادر هستیم از امکانات کم عمده ترین هدف را بدست بیاوریم

محترم محمد اجمل «سلطانزي» عضو مسلکي ریاست کمپیوتر اداره امور

وقتي جاده هاي کند و کپر کابل را پاي پیاده به گردش بگیري، به یقین درمیبابي که بازار کورس هاي انگلیسي و کمپیوتر درین شهر گرمي خاصي دارد، شاید در کنار هر مدرسه کمتر از ٥-٨ کورس آموزشي شخصي نباشد.
شاگردان این کورس ها را که اکثراً جوانان و نوجوانان تشکیل میدهند بعد از ختم دروس مدارس سوار بایسکل هاي چیناي مي بیني که از یك جاده به جاده دیگر روان اند تا سراغ کورس مربوطه شان گردند. دیدن چنین یك حالت براي هر انسان نوید این را میدهد که زمینه تعلیم و تحصیل درین شهر واقعاً ارزان است .
بلي خواننده، عالیقدر! شاید حتماً فهمیده اید که ذره بین گزارش ما اینبار متوجه مراکز خدمات کمپیوتري در شهر افتاده ، به هر حال امیدواریم دیدني ها و گفتني هاي ما ممد دلچسپي شما عزیز دوستان طرف آید .
همین حالا در شهر فرهنگي کابل زیاده از ۲۰ مرکز خدمات کمپیوتري عملاً مصروف آموزش شاگردان در سویه ها و پروگرام هاي مختلف قرار دارد ؛ مرکز خدمات کمپیوتري نوید ، انستیتوت خدمات کمپیوتري آسیا، علي سینا، افغان ترك، صداي افغان، مهر، شفق و ... از زمره پیش قراولان این مراکز بشمار میروند. که روزانه اضافه از ۷۰۰ شاگرد دور ۱۲۰ پایه کمپیوتردر بین کورس ها تحت آموزش قرار دارند. آمار نشان میدهد که طي ۸ سال گذشته بیشتر از ٤٥٠٠ شاگرد درین ص ٤

نظامیان صهیونستي دو نوجوان فلسطیني را به شهادت رسانیدند

منابع خبري جهان :
در گلوله باري تازه نظامیان رژیم صهیونستي دو نو جوان دیگر فلسطیني به شهادت رسیدند.
فلسطینیان مذکور در دو حادثه جداگانه گلوله باري اشغالگران صهیونست که در نزدیکي یك کمپ آواره گان فلسطیني در باریکه غزه و در جنوب بیت اللحم روي داده به شهادت رسیده و سه فلسطیني دیگر جراحت برداشته اند.
به گفته فلسطینیان گلوله باري نظامیان صهیونیست بدون هیچ انگیزه یي صورت گرفته و هنگام این حادثات هیچ درگیري بین طرفین جریان نداشت .

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

روس او امریکا په افغانستان کی د اسلامی نظام پر خلاف گډی هلی ځلی کوی

نړیوالو خبری سرچینو څرگنده کړی چی په دی وروستیو ورځو کی په افغانستان باندی د نورو بندیزونو د لگولو لپاره د روس او امریکی له خوا یو لړ هڅی پیل شوی تر څو د ملگرو ملتو په امنیت شوری کی خپل ملگری قانع او د بندیزونو پر یکړه صادره کړی. په دی هکله باید وویل شی چی د افغانستان په **هکله د روسانو سیاست بالکل واضح او په ډاگه دی دا چی اوس امریکا هم ورسره غبرگه شوی، دا خبره یقینی کوی چی نړیوال کفر رښتیا هم تل د اسلام پر خلاف گډ دریځ**
۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات :۹۲۸۵۹
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاڼې برخه

نبسی دا ځکه چی څوک په فلسطین کی اسلام نه شی زغملای نو په افغانستان کی هم څه د خیر هیله نه شی تری کیدی.

په هر صورت دا یو څرگند حقیقت دی چی کفار د اسلام په وړاندی د مقابلی په باره کی څه اختلاف نه سره لری خو څرنگه چی د روس او امریکی د اوروستی هلی ځلی په یو داسی مهال کي پیل شوی چی د اسلامی امارت له خوا په ټول هیواد کی د کوکنارو کښت په عملی ډول بند او په لوړه کچه نړیوالی ټولنی هم وربداندی قانع شوی، چی ښایی دا کار له اسلامی امارت سره په نړیوالو اړیکو کی ډیره مرسته هم وکړی خو له بده مرغه استعماری هیوادونو پر دغی پرمختیا سترگی پټی او د ټولو اصولو پر خلاف یی د یو مثبت غبرگون پر ځای منفی دریځ غوره کړی له همدی ځایه ډیره ښه څرگندیږی چی په حقیقت کی بشری سوکالی او نیکمرغی دوی ته څومره ارزښت لری.

دا چی له دی ټولو واقعیتونو سره سره بیا هم دوی د خپلو کرغیړنو اهدافو لپاره هلی ځلی کوی ، په سیمی او زمونږ گاونډیو اسلامی هیوادو پوری اړه لری چی ددی چاپیریال د ثبات او ټینگښت د له منځه وړلو لپاره د مغرضو هیوادو دغه تگلاره څه ډول تعبیروی .

پاتی شوه نور اسلامی هیوادونه، هغوی خو لا پخوا د غفلت په یو داسی خوب ویده دی چی که څوک د تن جامی تری باسی هم نه راویښیږی . دا ځکه چی که په اسلامی نړی کی څه خوځښت او یووالی وای نو د یوه اسلامی هیواد پر خلاف به دا ډول جرأت چانه وای کړی مگر تر کومه ځایه چی په افغانانو پوری اړه لری، هیڅکله به هم هغو فشارونو ته سر ټیټ نه کړی چی د دوی خوښ کړی اسلامی نظام او د هیواد ملکی تمامیت او خپلواکی تر پوښتنی لاندی راولی . افغان مجاهد ولس د روسی یرغل او کمونستی پوچی او کفری نظریی پر خلاف د خپل څوارلس کلن جهاد په دوران کی خپل دوه ملیونه سرونه ځار کړی، لوږی ، تندی، کړاوونه او هجرتونه یی په ځان منلی او اوس چی دا دی د یو خپلواک اسلامی نظام په سیوری کی ژوند کوی او په همدی جرم د نړی د سترو هیوادو له خوا سزا ورکول کیږی او بندیزونه پری لگیږی، نور به هم خپل صبر او زغم ته دوام ورکوی او په هر ډول گرانه بیه به د خپل دین او هیواد ساتنه کوی. افغان مسلمان ولس په دی ډیر ښه پوهیږی چی مغرض دښمنان هیڅکله هم د دوی په هیواد کی سوله، استحکام او د خلکو له غوښتنی سره سم یو خپلواک اسلامی نظام نه شی زغملای له همدی کبله په ډول ډول پلمو او لاس وهنو سره هڅه کوی چی دلته نوی قایم شوی اسلامی امارت ته ستونزی پیدا کړی خو مونږ پوره باور لرو چی ان شاء الله د لوی خدای په مرسته او د افغان مجاهد ملت په ټینگ عزم او سرښندنه به دا ټول مشکلات ختمیږی او بالاخره به نړیوالو ته حقایق روښانه او د افغانستان له اسلامی امارت سره به د دوستی او ملگرتیا اړیکی جوړوی.

فلسطین د تاریخ په اوږدو کی

طبیب محمد نذیر احمد زی

فلسطین د نړی د څو سترو لرغونو ښارونو څخه یو ښار دی چی د تاریخ په اوږدوکی څو ځلی وران او ودان شوی نوموړی ښارد نړی د زیاترو وگړولپاره د خاص درناوی څښتن دی ډیر پیغمبران په نوموړی ښار کی د نبوت په ستری دندی گمارل شوی او بیا همدغلته خښ دی نوموړی سپیڅلی ځای د مسلمانانو لومړی قبله او تر کعبی شریفی او مدینی منوری وروسته د مسلمانانو لپاره د احترام دریم ځای گڼل کیږی .

بیت المقدس زمونږ د گران پیغمبر «ص» د معراج په سفر کی د تم کیدو لومړی ځای وو څرنگه چی نوموړی ښار د حضرت عیسی «ع» د زیږیدو او د حضرت داود«ع» او سلیمان «ع» زیارت ځای ده نو د یهودانو اوعیسویانو لپاره هم د سپیڅلی مقام څښتن لری هغوی یی د «یروشلم» یا د «امن د ښار» په نامه بولی.

د فلسطین پخوانی حالات :

د لیکل شویو آثارو له مخی د القدس یا فلسطین دری زره کلن تاریخ څرگند دی له نن څخه دری زره کاله پخوا یوه کنعانی کورنی هلته اوسیدله چی له حجاز څخه یی هجرت کړی او هلته میشته شوی وه وروسته تر هغوی حضرت ابراهیم «ع» له «شهرار» څخه دی سیمی ته تشریف یوړ او د حبرون په مقام کی یی اوسیدل پیل کړل چی وروسته په «الخلیل» مشهوره شوه د وخت په تیریدو سره حضرت ابراهیم «ع» قوت ومونډ آن تر دی چی کله د دمشق پادشاه د حضرت لوط «ع» (هغه د اردن په سیمه کی میشت وو) په وړاندی له تیری اوبی ادبی څخه کار واخیست نو ابراهیم «ع» د هغه پر ضد د جهاد اعلان وکړ او د دمشق پادشاه یی تر خپلی سیمی پوری وشړلاو . ابراهیم «ع» تر ۱۷۵ کاله ژوند وروسته له دی نړی څخه سترگی پټی کړی اوپه حبرون کی خښ کړل شو تر هغه څلوېښت کاله وروسته حضرت یعقوب«ع» د بیت المقدس په یوه سیمه (بیت ایل) کی یو «حلال ځای» ALTER جوړکړ چی د ډیرو کلونو تر تیریدو وروسته حضرت سلیمان «ع» د نوموړی ځای پر ورانیو د هیکل سلیمان یی ساری ودانی جوړه کړه . څرنگه چی د حضرت یعقوب «ع» لقب اسرائیل وو نو ځکه د نوموړی او لادی ته بنو اسرائیل وایی د حضرت یوسف «ع» په زمانه کی بنی اسرائیلو ښه پر مختگ وکړ خو د هغه تر رحلت وروسته بنی اسرائیل د خپلو بدو عملونو له کبله له راز راز مصیبتونو سره مخامخ شول تر څو څلور سوه کاله وروسته حضرت موسی «ع» هغوی د مصر د فرعون له پنجو څخه وژغورل او هوسا ژوند یی ور په برخه کړ .

بیت المقدس تر عیسی «ع» وړاندی او وروسته :

تر موسی «ع» وروسته حضرت سیموئیل په بنی اسرائیلو کی د نبی په توگه مبعوث شو تر هغه وروسته بنی اسرائیلو حضرت طالوت خپل پادشاه وټاکه چی بیا یی پادشاهی حضرت داود «ع» او وروسته حضرت سلیمان «ع» ته ورسیده تر سلیمان «ع» وروسته د القدس سیمه په دوو برخو وویشل شوه چی شمالی سیمی ته یی اسرائیل او جنوبی برخی ته یی د «یهودا» نوم ورکړل شو په ۵۸۷ ق م کی د بابل پادشاه نوموړی سیمه ونیوله او یهودان یی ټول غلامان وگرځول پنځوس کاله وروسته د فارس پادشاه خسرو بابل فتح کړ او یهودانو ته یی په خپلو سیمو کی د بیا میشته کیدو اجازه ورکړه په ۳۳۳ ق م کی یونانی سکندر فلسطین ونیو او هلته یی یونانی تهذیب او تمدن دود کړ. ۱۶۸ کاله مخکی له مسیح څخه اسرائیلی ترکمونو پاڅون وکړ او یونانیان یی له ځینی خاوری وشړل ۳۷ کاله مخکی له عیسی «ع» څخه روسی شهنشاه بیت المقدس ډیر ښکلی ودان کړ خو تر عیسی «ع» او یا کاله وروسته عیسویانو بغاوت وکړ او د سلیمانی هیکل ښکلی ودانی یی وسوځوله په ۳۲۳ میلادی کال کی عیسویت د روم رسمی مذهب وگرځیده اور ومی عیسایی ملکی د فلسطین له عیسویانو سره خاصه مینه وښوده او هلته یی د عیسویانو لپاره یوه ستره کلیسا ودانه کړه .

په ٦١٤ عیسوی کی د فارس پاچا دوهم خسرو پر فلسطین حمله وکړه او نوموړی ښار یی په کنډواله بدل کړ او د نوموړی سیمی یی شمیره اوسیدونکی یی له یوه سره ووژل .

د راشده خلفاو دوره او دفلسطین حالات :

د اسلام د سپیڅلی دین د لمر وړانگو په شپاړسم هجری کال د حضرت عمر فاروق «رض» د خلافت په دوره کی پر فلسطین خپلی ژغوروونکی وزری خپری کړی . تاریخ شاهد دی چی د فلسطین اوسیدونکی د هیڅ یوه سویمن مشرمخی ته نه دی وروتلی او نه یی هغه ته ښه راغلاست ویلی پرته له حضرت عمر فاروق«رض» څخه چی د بیت المقدس ټول اوسیدونکی یی مخ ته راوتلی او خوشالی یی کولی په نوموړی سفر کی د حضرت عمر «رض» د سفر وسایل ساده خو له یی ساری معنوی لوړتیا څخه برخمن و چی عیسویان ټول ورته گوته په غاښ شول او تر نن پوری یی د هغوی مورخین د حضرت عمر «رض» د نوموړی سفر پر اخلاقی لوړتیا او معنوی ښکلاو لیکنی کوی حضرت فاروق اعظم «رض» مفتوحه سیمی ټولی وکتلی، د اسلامی احکامو د تطبیق څرنگوالی یی تر سترگو تیر کړ او د عامو خلکو د ژوندانه پوښتنه یی وکړه وروسته تر هغه د سولی یوه جامع لنډه معاهده لاسلیک شوه او مشر راهب سوفرنیوس ، ټولی کلیانی (کونجی) هغه مبارک ته تسلیم کړی حضرت عمر«رض» پر هغه مهال د خدای پاک ډیره شکرانه ادا کړه وروسته تر هغه د «صخره» مقام ته ورغی چیرته چی زمونږ ستر پیشوا جناب سردار کائنات چی د معراج په مبارک سفر کی په براق سپور شوی و .

د اقصی جومات په حرم کی سپیڅلی ځایونه :

تاریخی کتابونو د حرم دننه د لاندی ځایونو نومونه راوړی دی چی هر یو یی په خپل ځای د احترام او ارزښت وړ دی. د حرم په جنوب شرقی برخه کی مهد عیسی چی ځینی یی «محراب مریم و زکریا» بولی موقعیت لری. باب حطه څخه چی حرم ته ننوځی نو د شرف اللانبیا دروازه تر سترگو کیږی . د باب حطه او نوموړی دروازی تر منځ یو محراب لیدل کیږی چی د سلیمان «ع» د مصلی په نامه یادیږی دننه په حرم کی د مسجد صخره یا الاقصی په دری سوه متری کی د سلیمان «ع» زیارت واقع دی .

روژه لرونکی باید لاندنی ټکی تر سره کړی

روژه د احادیثو په رڼا کی ۲

عبدالرحیم «ثاقب»

حضرت محمد «ص» فرمایلی : تاسی سحر یعنی پشلمی کوی ځکه چی په هغه کی برکت دی . سحر هغه د شپی خوراک ته ویل کیږی چی د روژی نیولو په نیت یی یو څوک تر سره کړی .

په پشلمی کولو کی مستحب دا دی چی هغه د شپی په اخیری حصه کی تر سره شی په دی اړه په هغه حدیث شریف کی چی احمد له ابوذر نه روایت کړی داسی راغلی : زما امت به همیشه په خیر وی تر څو چی یی روژه ماتی په وخت او پشلمی یی د شپی په اخیری حصه کی کوی .

پشلمی کول سنت دی حتی که یو سړی یوه خورما او یا یو غوړپ اوبه وڅښی هم پشلمی کول یی په ځای کیږی.

افطار

افطار یعنی روژه ماتی کول په اول وخت د داخلیدو د ماښام سره باید په خورما سره وشي که هغه نه وی بل څه خوړو شی او که هغه هم نه وی په اوبو سره باید وشی. خو که خورما وی که د اوبو غوړپونه وی باید هغه وتر (طاق) وی .

حضرت انس فرمایلی : رسول اکرم «ص» په څو دانو خورما و روژه ماتی کاوه که په هغه نه و بیا به یی څو غوړ په اوبه و څښلی .

د روژه ماتی په مهال دعا کول

د دعا د قبلیدو یو مهال د روژه ماتی مهال دی باید په دی مهال کی مسلمان روژه لرونکی دا دعا ولولی : اللهم لک صمت و علی رزقک افطرت .

ای خدایه ما ستا د رضا لپاره روژه نیولی او ستا په روزی باندی مي ماته کړه په تامی توکل او په تامی ایمان راوړی دی.

باید یو مسلمان د خپل توان په اندازه بل مسلمان ته روژه ماتی لپاره څه ورکړی په دی هکله حضرت محمد «ص» فرمایلی : چا چی روژه تی ته روژه ماتي ورکړ خدای به دومره اجر ورته ورکړی لکه د هغه دروژی بغیر له دی چی د هغه د روژی له اجر نه څه کم شی (ترمذی)

روژه لرونکی شخص باید خپله خوله له عبثو خبرو او چټیاتو څخه وژغوری.

همدارنگه غیبت ، دروغ او نمامت په مطلقه توگه باید ترک کړی .

د اسلام پیغمبر په دی هکله فرمایلی : چا چی په روژه کی دروغ ویل او په دروغو عمل کول پری نښودل نو خدای تعالی هغه ته هیڅ ددی حاجت نلری چی یوالحی ډوډی خوړل او اوبه څښل یی پری ایږدی وی (بخاری)

روژه لرونکی باید د روژی په میاشت کی په خپل کور او عیال باندی په نفقه کی توسع (فراخی) وکړی. یعنی هغوی ته د خوړلو لپاره تر بل وخت یو څه زیات او ښه خواړه برابر کړی همدارنگه دی دروژی په میاشت کی نورو فقیرانو ته د خپل توان په اندازه صدقه او خیرات ورکړی روژه لرونکی باید د روژی په میاشت کی د قرآن کریم زیات تلاوت وکړی همدارنگه دی ماثور اذکار او د قرآن کریم په تعلیم او تعلم کی زیات کوښښ وکړی.

روژه لرونکی باید له ځینو هغو مباحو شیانو لکه ډیر عطر استعمالول یی له ضرورته غسل کول په استنشاق او مضمضه کولو کی له مبالغی کولو ځان وساتی.

پاتی لری

جهان ورزش

متصدي صفحه : آرین خبیر

معرفي ورزشکـــاران

محمدیاسین «نظري » ترینر کلپ ورزشي پرورش اندام و وزنه برداري افغان

شریعت : خوانندگان عزیزوعلاقمندان محترم سپورت ! به سلسله معرفي ورزشکاران موفق وقهرمان اینبارمصاحبه بي رابامحترم محمدیاسین «نظري »یکتن ازترینران کلپ ورزشي پرورش اندام و وزنه برداري افغان انجام داده ایم که اینك توجه تان رابدان معطوف میداریم .

محترم محمدیاسین تمرینات نخست ورزشي خودرادرسال ١٣٦٤ حینکه طالب حربي ڤونځي بودند تحت نظراستادان مجرب ازجمله استادهمایون خان دررشته جمناستك آغازنموده است .

نامبرده مدت ٩ سال میشود که تمرینات پرورش اندام راتحت نظراستاد محمدنعیم ابراهیم زاده آغازوفعلادرکلپ افغان بحیث ترینرایفاي وظیفه مینماید .موصوف اظهارنمودکه ورزش رابعنوان یگانه راه مجادله باموادمخدرورهایي ازتمام فسادهاي اجتماعي برگزیده ام .محمدیاسین نظري درمسابقات زیادي اشتراك ورزیده است .نتایج حاصله ازمسابقات وي راده هامدال ،کپ ،تحسین نامه وتقدیرنامه تشکیل میدهد .

اخبار سپورتي

پهلواني

مسابقات انتخاباتي پهلواني جهت گزینش بهترین پهلوانان براي تیم ملي گیروگیرومن کشورچندي قبل خاتمه یافت .استادمحمدیونس حیران ترینرکلپ ورزشي جوانان میهن ویکي ازمسئولین فدراسیون پهلواني درموردچنین معلومات دادند :بعدازبررسي دقیق هیئت تدویرمسابقات نتایج آتي بدست آمد :

١-کلپ ورزشي جوانان کابل درسکوي قهرماني مقام اول قرارگرفت .

٢-کلپ ورزشي امیري حایزمقام دوم گردید.

٣کلپ ورزشي عارف شهیدبه مقام سوم نایل آمد.

فوتبال

مسابقات فوتبال که چندي قبل به سیستم لیك به اساس پلان وپروگرام مرتبه کمیته ملي المپیك وفدراسیون مربوطه آغازگردیده بود خاتمه یافت .

هیأت ژوري نتایج این مسابقات را چنین اعلان نمود :

١- تیم جوانان میهن بااخذ ٢٨ امتیاز درسکوي قهرماني ,یعني مقام اول قرارگرفت .

٢- تیم سباوون بااخذ ٢٦ امتیاز مقام دوم راحاصل نمود

٣- تیم میوند بااخذ ٢٥ امتیازحایز مقام سوم گردید .

٤- تیم کابل کلپ بابدست آوردن ٢٢ امتیاز حایز مقام چهارم این مسابقات شناخته شد .

همچنان سید طاهر سنترفارورتیم فوتبال میوند بااجراي ١٥ گول دررده مسابقه بعنوان بهترین وشایسته ترین گول زن سال برگزیده وانتخاب گردید

تکواندو

. مسابقات انتخاباتي تکواندوجهت انتخاب بهترین هابراي تیم ملي تکواندوي کشورچندي قبل تحت نظرمحترم میرزمان باوررئیس فدراسیون تکواندو،سیدرستم آغا،سرحکم واستادآرین خیبرآمرتدبرمسابقات فدراسیون تکواندوي کشور درستدیوم ورزشي کابل تدویریافت .

بعدازارزیابي دقیق هیئت تدویرمسابقات درهشت وزن ٢٤ تن براي تیم ملي تکواندو انتخاب وهریك محترم ایمل بابکرخیل ،بشیراحمد،ایرج ومحمدشعیب بعنوان بهترین هاي تیم ملي تکواندوي کشوربرگزیده شدند .

یادي ازخلیفه بزرگ پهلوانان(پهلوان نظام)

درین شماره به بهانه یاد بودخاطره تابناك وپردرخشش ورزش کشور(خلیفه نظام الدین پهلوان) چندحرفي رابه رشته تحریردرآورده ایم که اینك به دسترس شما قرارمیگرد.

مرحوم استاد نظام الدین پهلوان درسال ١٢٩٨ هـ ش درده افغانان کابل زاده شد هنوز به سن طفولیت بودکه دردکان مسگري که مربوط خانواده اش بود چکش بلند کرد ودرجوش جوان بودنش وقتي هژده سال داشت به جمع پهلوانان ،جوانمردان وپاك بازان پیوست ونزدخلیفه برات افشاري زانوزد.

استعداد پردرخشش وي موجب آن شد که موصوف رابدان وادارد تادرین رشته متحمل زحمات زیادي شود.

همین امرباعث آن شد که بزودي عضویت پرافتخار تیم ملي پهلواني کشوررانصیب گرد.آوازه (نظام پهلوان)درشهروکوچه هابرسرزبانهاافتاد وهمه باخلیفه وشاگردانش آشناگشتند .

درسال ١٩٥٨ م بعنوان عضوي تیم ملي پهلواني افغانستان درمسابقات جاپان قهرمانانه اشتراك کرد.

خلیفه نظام الدین بعنوان پهلوان جوان افغاني دراندونیزیا ،هندوستان ،تایلند،ایران ،اتحادشوروي وقت ،پاکستان ،آلمان وروم به مسابقات جام هاي قاره یي وجهاني شتافت ودرفش پرافتخارکشورعزیزمان رابرفرازقله هاي شامخ ورزشي به اهتزازدرآورد .

خلیفه مرحوم ازسال ١٣٢٦ - ١٣٣٥ درکلپ معارف (تعلیم وتربیه)به تربیت پهلوان بچه هاپرداخت وتعدادکثیري ازپهلوانان راتربیه نمودبعدادرکلپ آریاناوتیم ملي پهلواني کشوربه حیث ترینر ایفاي وظیفه کرد.

استاد درسالهاي بعدي به کشورهاي آلمان ،هنگري ،چکسلواکیا ،بلغاریا ،پولند ،هندوستان وروسیه نیزسفرهاي ورزشي رابعنوان هیئت افغاني انجام داد.

موصوف بپاس قهرماني ها ،سعي وتلاش خستگي ناپذیروزحمات پیگیربارهامورددتقدیروتحسین قرارگرفته وده هاکپ،مدال ،تحسین نامه ،تقدیرنامه وجوایزنقدي وجنسي بدست آورده است .باري هم جام مسابقات رابنام (جام خلیفه نظام)به اومرتبط ساختند.خلیفه نظام درروزگارنزدیك به خاموشي اش سمت مشاوریت کمیته ملي المپیك وریاست فدراسیون پهلواني افغانستان راعهده داربود.

خلیفه بعدازهفتادسال زندگي پرافتخارباتن نیرومندومردانه اش بتاریخ ١٥ اسد١٣٦٨ دنیاي فاني راوداع گفته وبرحمت حق پیوست ،وواپسین نفس هادرتنه نیرومندش خاموش گشت .

یادش گرامي باد.

کونگفوي (وینگ چان)بروسلي

این هنررزمي چیني درسراسر دنیاازشهرت زیادي برخوردار است وهنوزجزازجنجال برانگیزترین ورزشهاي رزمي بشمارمیرود .امااززهمه آنهاساده ترمیباشد .مطالب زیادي درمورد آن بچاپ میرسند امابیشترین سوء تعبیرهادرباره آن میشود .

بروسلي این هنررا آموخت : ظهوردرخشان بروسلي منجربه شهرت جهاني اودرسال ١٩٧٠ گردید .مرگ غیرمنتظره وناگهاني وي خاطره تلخي را درازهان مردم بجاگذاشت بخشي ازین خاطره هابه دانش وي برسبك (وینگ چان)کونگفوبرمیگردد که بروسلي آنرابراي مدتي درسرزمین پدري خودزیرنظراستادچیني این رشته «ییپ من »آموخت.طبق اظهارات فرزنداستادش (ییپ چان پراستادبروسلي)ییپ من پسرخودرا طبق رسوم سنتي تربیت کردوبروسلي که غربي تر،تربیه شده بودبه راهي قدم نهاد که درهنگام ورودش به امریکاخودانتخاب کرده بود وباميل خود فنون وینگ چان را که تاآن زمان آموخته بود به امریکائیان آموزش داد .تاآن زمان که این هنررزمي خاص بطورگسترده یي توسط چیني هاتمرین وآموزش داده شد .

درآواخردهه ١٩٦٠ واوایل ١٩٧٠ درانگلستان چندین کتاب درباره وینگ چان چاپ گردید ومربیان چیني بااستندردهاي مختلف آنرابه غربي ها آموزش دادند .حرکات بروسلي مهارتهاي اصلي وینگ چان رابه نمایش میگذاشت اما لازم به ذکر است که بیشترین تکنیکهاي (یا)که درآنوقت درحرکات بروسلي اجرامیشد ازورزش تکواندو که بروسلي آن رادرامریکافراگرفته بودالهام گرفته میشد .لزومي ندارد براي فراگیري وینگ چان بدن خیلي قوي داشته باشید .

این هنر برمبناي حرکات سریع وتوان ماهیچه ها استواراست .بیشترین فشار برماهیچه ها وبازوها وارد میشود .این هنر یکي از عالیترین سیستم هاي مبارزه است که حاوي تکنیکهاي بسیارعالي ودرعین حال ساده میباشد .اگرچه این هنرزماني ساده انگاشته میشودکه فردبردومین وسومین سطح این ورزش به درستي عمل کند وتکنیکهاي تهاجمي ،مدلهاي دینامیکي ووضعیت هاي زیباياستاتیك آن رافراگرفته باشد.تنهااستفاده بحث انگیز وینگ چان بعنوان یك هنر **رزمي کامل این است که ممکن مبارزدرمقابل حملات سنگین وپیاپي بعلت عدم تعادل کافي آسیب پذیرباشد.**

تاریخچه (وینگ چان)کونگفو

تاریخچه وینگ چان ازمعبد شائولین درولایت هونان چین شروع میشود .جاي که (بودهیدارماي مشهور ٥٢٧-٤٤٨)مؤسس مکتب ذن (چان بودهیزم)زندگي میکرد .قرنهابعد این معبدازمیان برده شدودوباره ساخته شد اماهمیشه مرکزفعالیت هنرهاي رزمي بود .ابتداء روشهاي مبارزه براساس حرکات حیوانات پایه ریزي میشد وباتوجه به ویژگیهاي فزیکي بدن انسان درمطابقت لازم صورت میگرفت .اژدهاباروح ،ببربه استخوانها،پلنگ باقدرت ،ماربانفس وماهي خوار با انرژي مرتبط میشدند .بعدازآن هنرهاي رزمي دیگربوجودآمدند روشهاتغییر پیداکرده وسیستمهاي جدیدپدیدارگشتند.درقرن ١٧ منچوي چین به سلسله مینگ پایان داد ودرلواي این قانون معبد شائولین یکي ازمراکز توطئه ودسیسه براي برانداختن دولت شد وفورم لباس وپوشش منچوریهابالاي مردم تحمیل گردید طوریکه بایدسرهاراازته میتراشیدندودنباله ازموي درپشت سرباقي میگذاشتند.راهبان قدرتمندمعبدبه تدریج شروع به آموزش هنرهاي رزمي کردندتاکه امپراطوري چین درسال ١٧٢٦ برتمام هنرهاي رزمي قانون منع راوضع کرد.

امادرسال ١٧٣٥ باوجوداختناق شدید ومراقبتهاي ویژه ،امپراطورهنوزبه فعال بودن گروه هاي مردمي وراهبهاظنین بودوتصمیم گرفت باروشهاي گوناگون راه حل این مشکل رابیابد اوبه شهردارهونان دستورداد معبدرابه گونه خراب وبازسازي کند که درآن هیچ مکان مخفي براي فعالیتهاي مخفي راهبان وجودنداشته باشد.

تاآن زمان مکانهاومحلهاي زیادي وجود داشت بالآخره تصمیم گرفته شد که معبدکاملاتخریب شود.براي این امر ،سپاه به آن محل اعزام شد.بعدازچندین روزجنگ ، ستیزوکوششهاي فراوان معبد باخاك یکسان گردیدوفقط پنج تن ازساکنان آن جان سالم بدربردند وتوانستند ازآنجافرارنمایند درحقیقت ویراني معبد توسط یکي ازراهبان خاین معبدشائولین صورت گرفت .

ادامه دارد .

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

٤٢ داصحابو دژوند پلوشی

بیا بی هغه دځــان سره روان کړاودویمه شپه بی هم ورسره سباکړه مــگربیاهم دواړوپخپلومنځوکی یودبل څخه پوښتنه ونکړه .

کله چی دریمه شپه شوه نوعلی «رض»خپل میلمه ته وویل :آیاته ماته دانه وایی چی څه شی مکی ته راوستلی یی؟

ابوذر وویل که ته راسره عهدکوی چی کوم شی زه غواړم دهغه ماته لارښو ونه وکړی نوزه به درته دحال بیان وکړم .

علی ورسره ومنله .

بیاابوذر وویل :ماته لری ځایونوڅخه دمکی اراده وکړه خودنوی پیغمبرسره مخامخ شم اوله هغه څخه چی دی یی وایی څه واورم .

په دغه وخت دعلی پرمخ خوشحالی څرگنده شوه اوویی ویل :په الله سوگند ،هغه په حقه سره دالله رسول دی ،اوبیشکه هغه ... اوبیشکه هغه ...

کله چی موشپه سباکړه نومایسی راځه ،اوچی می څه ولیدل چی ستاپه باب له ماسره ویره پیداشوه نوزه به ودریږم چی گوندی زه اوبه تویوم ،اوکله چی روان شوم نوته به هم راپسی روان شی ترهغه چی زه کوم ځای ته ورننوزم نوته به هم ورننوزی .

ابوذرله ډیرشوقه چی پیغمبروویني ټوله شپه بی ویښه تیره کړه أودوحی اوریدلوته بی ډیرارمان ؤ .

علی «رض»دسهاله مخی خپل میلمه درسول الله صلی الله علیه وسلم کورته روان کړاوابوذردهغه ترشاؤاوهیڅ لوری ته بی نه کتل تردی چی دواړه الهی پیغمبرته ورغلل اوپه دغه وخت کی ابوذرداسی وویل :السلام علیک یارسول الله .رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :وعلیک سلام الله ورحمته وبرکاته .

ابوذرلومړی شخص دی چی پیغمبرته یی داسلام وکړ،بیادغه سلام له همدغه وخته دمسلمانانو ترمنځه خپوراوعام شو .

رسول الله صلي الله علیه وسلم ابوذرته مخ کړاوهغه ته یي داسلام بلنه ورکړه اوورته یي قرآن ولوست .

ابوذرسمدلاسه دحق کلمه ووېله اوتوي دپن یي وسانه ، اودي څلورم یاپنځم تن دي چي اسلام ته یي غاړه کېښودله .

اوس به خبره ابوذرته پرېږدوځودي پخپله دخپلي موضوع بیان وکړي .

ابوذروویل:بیازه درسول الله سره په مکه کي پاتي شوم اوهغه ماته داسلام ښودنه وکړه اودقرآن څخه یي څه هم راته ولوستل اوبیایي راته وویل :په مکه کي څوک پخپل اسلام مه خبروه ځکه ویریږم نه چي دوي تاووژني .

ماوویل :زمادي په هغه ذات سوگند وي چي زمانفس دهغه په واک کي دي زه به مکه هیڅ پري نږدم څرچي زه مسجد ته ورنشم اوهلته دقریشوپه منځ کي دحق په دعوت سره خپل غږپورته نکړم .

الهي پیغمبرچپ پاتي شو،بیازه مسجدته لاړم ،په داسي حال کي چي قریش هلته ناست ؤاوپخپلومنځوکي یي سره خبري کولي . نوزه دهغوي په منځ کي ودریدم اوپه لوړآوازمي وویل :اي دقریشوټولگیه اشنگه چي زماغږدهغوي غوږونوته ورسید ،هغوي ټول وارخطا اودخپلوځایونوڅخه پورته شول اوویي ویل :ددي صابي چاره وکړي ،نوټول پاڅېدل ،اوزمادوژلوپه غرض،هغوزماپه وهلوپیل وکړ.په دغه وخت کي عباس بن عبدالمطلب (دپیغمبر«ع»تره)راغي اوپرمابانديي ځان وغورځاوه - څومادهغوي څخه بچ کړي - بیابي هغوي ته مخ کړاوویي ویل:اياتاسي دغفارسړي وژني اوحال داچي ستاسي دقافلوگذرپرهغه باندي دي !

پاتي لري

راغلي ليک

دشریعت اخبار مرکزی نشراتی ارګان ته

السلام علیکم و رحمة الله و ...

قدرمنو! له سلامه وروسته د شریعت اوونیزي په صفحو کی «راغلی لیک» کله کله لولم چی د هیوادوال سالم شکایتونه بنه په پراخه تندی په کی خپریږی.

خدای دی وکړی چی زما لیک ته د شریعت په صفحو کی ځای ورکړی څه موده وړاندی می یو مریض په تهیه مسکن کی د سری مباشتی روغتون ته د ستونی د عملیات لپاره یوړ او هلته می بستر کړ خدای شته چی په روغتون کی د نظافت او خورو انتظام ښه وو .

خو ښځینه بخش ته د مردانه ډاکترانو تله راتله بی حده زیات وو حتی بی له ضرورته په هم ډاکتران د ښځینه و بخش ته تلل او هلته بی له ښځینه مریضانو سره بی ځایه خبری کولی او د هغوی د مزاحمت سبب به ګرځیدل داسی خو لا هم پښیدل چی مریض به له خپل تاکلی وخت څخه د نارینه ډاکترانو د ورتلو له خاطره تیښتی ته مجبور شو .

بوی بلی خور د وزیر محمد اکبر خان د روغتون حال هم کټ مټ راته بیان کړ زما په نظر ددی ستونزی منځته راتګ خو یودا هم کیدای شی چی موږ په هیواد کی ښی تکړه ډاکترانی نه لرو او بل ځینو نارینه ډاکترانو د خپلو ناروا خواهشاتو په خاطر دی ستونزی ته لاره هواره کړیده که مسولین په دی اړه څه اقدامات وکړی انشا ءالله چی دا ستونزه به حل شی.

ستاسو خور جمیله «کریمی» له نوی ښار څخه

محترمی جمیلی خوری! ستاسو رالیږلی لیک مو ټکی په ټکی خپور کړ خدای «ج» دی وکړی چی د روغتیا وزارت مسولین پدی اړه لازم اقدامات وکړی.

اداره

انتخابات امریکا

رابه نفع خود به پایان رساند یا خیر فیصله خواهدکرد.

وکلاي بوش ازمحکمه مذکوردرخواست کرده اند تاحکم محکمه عالي ایالت فلوریدا مبني برتمدیدضرب الاجل تعین شده براي به اطلاع رساندن نتایج انتخابات رالغو کنداما دموکراتها میگویند حکم محکمه عالي ایالت فلوریدا مبني بر تمدید ضرب الاجل تعین شده براي به اطلاع رساندن نتایج انتخابات را لغو کند اما دموکراتها میگویند حکم محکمه عالي فلوریدا یك تصمیم ایالتي است و دولت مرکزي نباید در آن دخالت کند.

طبق یك خبر دیگر چندین هزار اوراق راي انتخابات ریاست جمهوری امریکا تحت نظارت شدید از یك حوزه انتخاباتي ایالت فوریدا به مرکز آن ایالت انتقال داده شده است . اوراق مذکور تا فیصله نهایي محکمه در مورد شمارش دو باره آراء مورد منازعه حفظ و نگهداري خواهد شد.

در چغچران ...

والي غور پیرامون احیاي مجدد تاسیسات عام المنفعه و سروي ماستر پلان شهر چغچران صحبت نموده اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي را در زمینه به حاضرین توضیح و سروي ماستر پلان چارم شهر چغچران را افتتاح نمود.

یك منبع مربوط گفت قرار است ساحه دو صدو پنجاه هکتار زمین از پلان چهارم سروي و عکس برداري و پلان سوم خط اندازي گردد.

همچنان طي سه ماه گذشته به طول ده کیلو متر سرکها و جویچه هاي داخل شهر نیز پاك کاري و جغل اندازي گردیده همچنان جوي آب عمومي شهر چغچران به طول پنج کیلو متر به کمك موسسه پي اچ اي به سیستم کار در بدل گندم پاك کاري گردیده است .

بهمین گونه بخاطر رفع مشکلات مردم موسسات باز سازي دهات و یونسف پانزده حلقه چاه آب آشامیدني را در نقاط مختلف شهر حفر و براي هفتصد خانواده آب صحي را مهیا نموده است .

د تخار ولایت ٦٠

آزادو شویو اسیرانو د افغانستان د اسلامی امارت د مهربانی او شفقت له امله خوښی څرګنده کړه او د افغانستان له اسلامی امارت سره یی د هر اړخیزی همکاری لپاره خپل تیاری څرګند کړ.

په کروندګرو...

ګردیزی د باختر د اطلاعاتي آژانس له خبریال سره مرکی په ترځ کی په دی باب څرګنده کړه چی د پکتیا ولایت د کرنی ریاست د غنمو د کرکیلی د منی د کمپاین په بهیر کی یوولس زره نهه سوه کیلو ګرامه پامیراو اتایادوله اصلاح شوی غنم د پکتیا ولایت په مرکز او اړوندو ولسوالیو کی په کروندګرو باندی ویشلی دی.

عراق با تفتیش...

کرد.

طارق عزیز معاون صدراعظم عراق این مخالفت را در یك مصاحبه مطبوعاتي در مسکو ابراز نموده است .

از طرف دیگر یك طیاره خطوط هوایي اردن وارد شهر بغداد پایتخت عراق شده و یك مقدار مواد امدادي را به آنکشور انتقال داده است .

به گفته مقامات اردني کمیته ناظر بر اعمال تحریم هاي سازمان ملل متحد علیه عراق با درخواست انجام پرواز طیاره مذکور موافقت کرده است .

مبارزین مسلمان ...

صدراعظم رژیم صهیونستي پیشنهاد گردیده است رد کرده و گفته اند که این پیشنهاد تازه نگراني هاي اصلي فلسطینیان را در باره بیت المقدس و سرنوشت آواره گان فلسطیني رفع نمیکند.

به گفته صدراعظم رژیم صهیونستي وي حاضر است ده فیصد دیگر اراضي ساحل غربي رود اردن را تحت کنترول فلسطیني ها قرار داده و شهرك هاي صهیونست نشین را به رژیم صهیونستي ضمیمه نماید.

در ولایت غزني ...

مدت چار سال . به این طرف روي موج متوسط نشرات داشت در اثر سعي و تلاش مسوولین ریاست اطلاعات و کلتور آنولایت به نشرات خود روي موج کوتاه آغاز نمود.

به قول یك منبع مسوول رادیو صداي شریعت ولایت غزني همه روزه از ساعت هفت الي هشت صبح و از ساعت چهار الي پنج شام به نشرات خود ادامه میدهد.

د مخالفینو ۹ ...

یی د دری صوف ولسوالی په مربوطاتو کی د ښه امنیت د تامینولو په لاره کی ارزښتناک ګام وباله . ورو سته قوماندانان رئیس جمعه ، قوماندان رئیس کوره ، قوماندان اندلیف، قوماندان مختار، قوماندان محمد صدیق او مولوی محمد یوسف د اسلامی امارت له پوځونو سره د یو ځای شویو قوماندانانو په نمایندګی خبری وکړی او ژمنه یی وکړه چی د اسلامی امارت د لوړو هدفونو او پروګرامونو تحقق او په هیواد کی د سراسری سولی او امنیت د ټینګښت په لاره کی به هڅه او هاند وکړی.

تعزیرات شوراي...

بود محترم سفیر ا.ا.ا در اسلام اباد پیرامون اینکه ملل متحد میخواهد تعزیرات بیشتري را بر مردم افغانستان وارد سازد صحبت نموده گفت تعزیرات قبلي سازمان ملل متحد اثرات منفي بالاي زنده گي مردم بیگناه افغانستان در بخش هاي مختلف داشته است قسمیکه میدانید در اثر این تعزیرات پرواز طیارات د آریانا افغاني هوایي شرکت قطع گردیده که این امر باعث گردید تا ادویه جات لازم که توسط کشور هاي مساعدت کننده به افغانستان انتقال میشد قطع گردد و مردم مریض با مشکلات بیشتر صحي مواجه شوند و نسبت عدم ادویه لازم امراض ساري در کشور توسعه یافته است همچنان اثرات منفي این تعزیرات در بخش هاي سیستم مخابراتي و پست و بلند رفتن نرخ هاي مواد خوراکه و کاهش ارزش پول افغاني نیز خیلي محسوس بوده که قرباني آن تمام مردم افغانستان میگردد."

د کابل ښاروالي ...

په مقصد د کابل ښار د بیلا بیلو اصنافو د پلټنی او کنترول په دوام په دی وروستیو وختو کی د بیو د کنترول موظفینو د کابل ښار په بیلا بیلو سیمو کی یو پنځوس قصابی ، یو دیرش نانوایی ګانی د لرګیو د پلورني دولس دکانونه او د ډبرو د سکرو د پلورنی او د لیتیانو د پلورنی یو شمیر دکانونه خیاطی او د جلبیو پلورونکی او حمامونه له دریو ورځو نه تر لسو ورځو پوری تړلی دی چی د ګران پلورنی مخه ونیول شی او د ښار اصناف د کابل ښاروالی له نرخنامی سره سم عمل وکړی.

دسري میاشتي ...

کی ۲۷۰۰ کیلو ګرامه غنم وریجی دال نخود او غوړی شامل دي چی د سر پل ولایت دافغانی سری میاشتی د ریاست له خوا په دغه ولایت کی په سلو بی وزلو کورنیو باندی ویشل شوی دی.

په کندز کي ...

یو کال کیږی چی په دی ښار کی را تول شوی دی د کندز والی محترم محمد عمر د استوګنی د ځای او د نړیوالو خیریه موسسو او سازمانونو د بشر دوستانه مرستو د نشتوالی له پلوه د مهاجرینو حالت دردوونکی وباله او وبی ویل موږ په وار وار د نړیوالو خیریه موسسو او سازمانونو له چارواکو او استازو سره د لیدنو کتنو او خبرو اترو په بهیر کی د مهاجرینو ستونزی او مشکلات طرحه کړی دی خو له بده مرغه هغوی په دی برخه کی په سرسری باندی بسوالی کړی دی او په عمل کی یی تر اوسه پوری له دغو کورنیو سره هیڅ راز بشری مرسته نه ده کړی. ده زیاته کړه د کندز ښار د مهاجرینو مرکز دی چی دری کتګوری یکی دی یو شمیر دغه مهاجرین د وچکالی اغیزو له امله د فاریاب او جوزجان له ولایتونو څخه مهاجر شوی دی او یو شمیر نوریی د مخالفینو د ظلم او زور زیاتی له امله پخوا د تخار تهرین بورکی شکمش خواجه غار ارچی او د امام صاحب له بیلا بیلو سیمو او له یو شمیر نورو جنګی ساحو څخه دغه ښار ته کډه شوی دی.

یك شهر و ۲۰ مرکز خدمات کمپیوتري...

امروز جهان، جهان کمپیوتر است، از آنجائیکه چند سال قبل یونسف شعار داده بود گویا آنانیکه الي سال ۲۰۰۰ میلادي ... بناً من نخواستم که در زمره بیسوادان جهان حساب شوم از همین وجه امروز کمپیوتر مي آموزم.

محترم انجنیر محمد سعید متصدي انستیتوت کمپیوتري آسیا در زمینه میگوید : امروز کمپیوتر در پهلوي اینکه بهترین محاسب و مهندس است ، حافظ قرآن هم است، طبیب، خطاط، محرر... خلاصه در هر رشته و هر فن جامع الکمالات مي باشد. علي الرغم اینکه طي ۲۰ سال نابساماني هاي اخیر کلیه سوابق، کتب و اسناد مهم ادارات ما قسماً مفقود و یا حریق گردید که تلافي این امر بعید از امکان دیده میشود ؛ اما امروز با کمپیوترایز ساختن سیستم اداري در کشور میتوان به بسیار سادگي جلو همچو حوادث غیر مترقبه را گرفت .

وي یگانه مشکل مراکز خدمات کمپیوتري را در شهر سکتگي در پروگرام پرچاوي برق وانمود ساخت و از مقامات مسؤول در زمینه تقاضا برد تا با در نظر داشت موثریت کار این کورس ها برق ایشان را در جریان روز پیوسته تأمین نمایند، چرا که این مراکز در عدم جریان برق هیچ کاري را کرده نمیتوانند .

محترم محمد اجمل «سلطانزي» عضو مسلکي ریاست کمپیوتر اداره امورمیگوید: خوشبختانه بعد از حاکمیت ا.ا در کشور توجه و اهتمام مقامات اداري و فرهنگي در جهت کمپیوترایز شدن کار ادارات امارتي از هر حیث قابل ملاحظه بوده و درین راستا از جانب مقامات امارت خدمات شایان و قابل یاد صورت گرفته است ، چنانچه همین حالا ۳۰٪ کار دفاتر اداره امور کمپیوترایز بوده و هر سیستم کمپیوتر اعم از IBM و Macintosh محتوي پیشرفته ترین پروگرام هاي الناشر المکتبي، ویندوز ۹۷-۹۸ و ۲۰۰۰ میباشد که خط هاي دري، پشتو و اردو را در خود انستال دارد مي باشد، فعلا خدمات دیزاین، ، محاسبه، نقشه کشي ، عکسبرداري و رسامي،گرافیك، بوسیله همین کمپیوتر ها انجام مي یابد. امروز ما قادر هستیم که به اهتمام کمپیوتر از مراکز آموزش دیده که از جمله ۲۵۰۰ تن آنان سرتفیکیت(شهادتنامه) رسمي بدست آورده اند.

مرکز خدمات کمپیوتري نوید را میتوان به عنوان بنیاد گذار کمپیوتر در کشور به حساب آورد . «نوید» در تابستان ۱۳۷۱ هـ ش براي علاقمندانش در شهر نو کابل نوید گیوتر تکنالوژي گیتي را داد .

محترم احمدضیا «شریفي» یکتن از استادان مجرب و سابقه دار این مرکز که در کمپیوترایز نمودن مطبوعات کشور نقش اساسي دارد نقش «نوید» را در قبال مطبوعات کشور و ارزش کمپیوتر در جهان امروزي را اینگونه بیان نمود ؛ «نوید» را باید به عنوان عامل ترویج و شناخت کمپیوتر در افغانستان و کمپیوترایز ساختن مطبوعات کشور شناخت ؛ چرا که قبل از فعالیت این مرکز مطبوعات افغاني به شکل حروف چیني بود و قدم نوید به یکبارگي پاي مطبوعات افغاني را از ماشین خانه هاي چاپ حروفي بیرون کشید و روي صفحات کمپیوتر آزین بخشید .

محترم «شریفي» افزود : امروز تکنالوژي یا فن آوري در جهان از هر حیث تکامل یافته و هر ثانیه نفس توسعه و انکشاف میکشد . انسان ۲۰۰۰ در صدد و راه یابي این است که چگونه میتواند تکنالوژي عصر را ممد کار خویش قرار داده و بوسیله آن میتواند کار بسیار را در کوتاه مدت و با مصرف کم و کیفیت عالي انجام دهد،به این معني که با امکانات کم عمده ترین هدف را بدست بیاورد.

محترم احمد ضیا «شریفي» علاوه نمود : یکي از پدیده هاي که انسان را به انجام این امر قادر ساخته است کمپیوتر است ، امروز کمپیوتر یك پدیده جهان شمول بوده و ضرورت آن یك امر جهاني تلقي میگردد . انسان ۲۰۰۰ توانسته است به اهتمام این پدیده رابطه انسان را بین دو کره نظام شمسي تأمین نموده و تحقیقات در مورد سیارات نظام شمسي را بالاتر از تصور انسان آسان گرداند.

محترم شریفي در اخیر گفتند : البته امروز در مکاتب ممالك مترقي جهان کمپیوتر به عنوان مضمون کلیدي تدریس میگردد، در حالیکه این ماشین در کشور هاي عقب مانده و در حال رشد تا هنوز به حیث یك پدیده جدید پذیرفته شده است .

محترم محمد سعید متصدي مرکز خدمات کمپیوتري نوید در مورد پروگرام هاي که در این کورس تدریس میگردد چنین گفت : فعلاً در کورس نوید پروگرام هاي داس، ورد پرفیکت، لوتس، ویندوز ام اس ورد ۹۷-۹۷-۲۰۰۰ ، فاکسپرو، اکسیس ، اکسیل، پاور پاینت و... تدریس میگردد . همچنان فرمایشات هموطنان را در بخش کمپوز نیز میپذیریم.

محترم محمد عمر یکتن از شاگردان انستیتوت کمپیوتر آسیا در برابر این پرسش که چرا کمپیوتر می آموزد، چنین اظهار میدارد :

امکانات کم عمده ترین هدف را بدست آوریم.

محترم الحاج شیر باز کمین زاده رئیس مرکز خدمات کمپیوتري نوید ضرورت و نیازمندي انترنت را در جامعه ما اینگونه با ارزش میخواند : عصر ۲۰۰۰ تقاضا میکند که ما باید از امکانات سالم و مثبت انترنت مستفید باشیم، امروز یگانه دلیل عدم برسمیت شناختن ا.ا.ا از جانب مجامع بین المللي، کم آگاهي یا بیخبري کلي جهانیان از ساختار نظام اجتماعي، سیاسي، اقتصادي و فرهنگي ا.ا.ا میباشد و صداي تبلیغات ا.ا.ا در مقابل توطئه هاي مجامع بین المللي بسیار ضعیف است، به این معني که ما تلویزیون نداریم، صداي رادیوي ما کمتر به اروپا و امریکا میرسد، امکانات و زمینه ارسال اخبار مطبوع ما به خارج میسر نیست؛ فلهذا مشکل است که جهانیان بدانند امروز در ا.ا.ا چه میگذرد؛ مگر انترنت میتواند همین صداي ما را هر دقیقه و هر ساعت به سمع و دید جهانیان انعکاس دهد بناً اگر ا.ا.ا بخواهد از جنبه هاي سالم و مثبت انترنت به نفع سیاست داخلي و خارجي خویش استفاده کند و جهانیان را در روشنایي حقایق موجود در افغانستان قرار دهد . میتواند در چوکات وزارت مخابرات یك انترنت کلپ ایجاد نموده و با گذاشتن چند پایه کمپیوتر یك صفحه خاص بنام ا.ا.ا باز نموده و از طریق همین صفحه تمام اخبار سیاسي، نظامي خویش را در اختیار جهانیان قرار دهد؛ ضمناً پاسخگوي تبلیغات سؤ دیگران نیز از همین طریق باشد.

توزیع انترنت به عوام و کنترول آن از لحاظ تخنیکي تا ممکن بوده و پس منظر مثبت در قبال ندارد؛ اما مسوولین امارتي میتوانند همین انترنت کلپ را به بسیار سادگي تحت کنترول خویش داشته و هر لحظه از آن مراقبت نمایند که درینصورت بضاعت پیشگان هم میتوانند از همین انترنیت کلپ جهت پیشبرد امورات تجارتي خویش استفاده سالم نمایند. اگر اینکار عملي گردد من متیقن هستم که در کوتاه مدت اذهان جهانیان در برابر ا.ا.ا ۹۰ فیصد تغیر خورده و ا.ا.ا میتواند به آساني راه خویش را در مجامع بین المللي پیدا نموده و کرسي افغانستان را در ملل متحد بدست آورد.

مهربان

د ګوون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirate of Afghanistan

Chief Editor: **Abdurrahim "Saqeb"**

Editor: **Ghulam M. Farooq**

Printed by: Emirate's Printing Press